سمیع الدین افغاني ۲۰۱۸/۰۹/۱۲

# ځو په خپله

ځو په خپله سره یو نه شو ورکیږو

لاترځو به په سرو وینو کي لمبیږو

هره ورځ دلته د غم په تغر ناست یو

د غزني، کابل، ننګرهار په ویر ژړیږو

نن په یو سبا په بل کور کي ماتم دی

د پـردو تیک او لمسه وژل کیـږو

هرکندږ په هره خوا مرګی مرګی شو

په نفاق کي مونږ له غمه نه خلاصیږو

ورنو سوله، همغږی ته ضرورت دی

په یووالي خپل مطلب ته مونږ رسیـږو

تربګني او په نفاق باندي څـه نه شي

ځو د سولي د کاروان سره یو کیـږو

افغاني، حب الوطن جز د ایمان دی

خپل وطن په خپل ایمان باندي نازیږو

۲۰۱۸/۰۹/۱۲